۱۶ جوزا ۱۳۸۱

**مطبوعاتي خبرتيا**

د افغانستا ن د بشر حقونو خپلواك كميسيون د ارزګان په ولايت کي د اته کلنی نجلی څخه د بم ايښودنی دپار کار اخيستل په کلکه باندي غندي :

کا بل د ۱۳۹۰ کا ل د چنګا ښ ۶
د افغانستان د بشر حقونوخپلواك كميسيون د ماشومانو څخه هر ډول ناوړه ګټه اخيستنه د ځا ن وژونکو بريدنو کړني په کلکه باندي غندي . بيله شکه چي د ماشومانو څخه د بم ايښودني او يا هم د ځان وژونکو بريدونو دپاره ګټه اخيستل د اسلام د پاك دين پرضد او غير انساني کړنه ده چي د نړيوالو بشردوستانه موازينو پر خلاف اوپه ځانګړی توګه د ماشومانو د حقونو څخه سرغړونه د ه او د بشری حقونو د سرغړونو څخه شميرل کيږي. د ژوند حق د انسا ن د بشری حقونو تر ټولو مهم حق دی چي پاك خدای (ج ) انسانانوته بخښلی دی او هيڅوك دا حق نلري چي بيله قانونی سببه هغه تر پښو لاندی کړي .
د ماشومانو د حقونو د نړيوالو معيارونو او موازينو پر بنسټ د هغه جملې نه د ماشومانو د حقونو نړيوال کنوانسيون ، په وسله والو لانجو کي د ماشومانو د ګډون د منع کولو اختياری پروتوکول، اود ژينو نړيوال کنوانسيون چي د افغانستا ن دولت د هغه اجراتو ته ژمن دی ، دولتونه مکلف دي چي داسی لازمي کړني تر سره کي تر څو هغه کسان چي سن ئې د ۱۸ کلنو څخه لږدی په وسله والو لا نجو کي د ګډون څخه را وګر ځوي، اوپه جګړوکی اخته هيڅ لوری د ا حق نلري چي د ماشومانو څخه د پو ځي بريدونو، ځا ن وژنی اوبم ايښودلو په چاروکی کار واخلي .
د افغانستان د بشرحقونو خپلواك كميسيون د ماشومانو څخه د ځان وژونکو بريدونو ، بم ايښودلو اوچاودونو کي ژوره انديښنه لري اوپه افغانستان کي د جګړو اخته خواوڅخه په کلکه غوښتنه کوي چي د ماشومانو څخه په بم ايښودلو ، ځان وژونکي بريدونو، چاودنواو د ملکي کسانو وژونو کي ګټه وانخلي او د دې کار مخه ونيسي ، او عامه ودانۍ اوداستوګنی سيمي په نښه نکړي.
د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون د افغانستا ن د بشر حقونو خپلواك كميسيون د افغانستان دولت اونړيولي ټولني څخه په کلکه غوښتونکی دی چي د ملکي کسانو او په تيره بيا د ماشومانو د ساتني دپاره کلك او اغيز ناکه تدبيرونه ونيسي اوپه دې لاره کي جدي هڅي وکړي .

*******************************


د افغانستان د بشر حقونو خپلواك كميسيون
پته : افغانستا ن کابل ، دريیمه کارته، پل سرخ
د اړيکو شمير:۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰۶۷۶
وب سايت : www.aihrc.org.af